**څوک باز او څوک چرګه ده؟**




(ژباړه)

چرګه د باز مخې ته ودرېده او ورته ويې ويل: ته ولې دومره لوړ الوزې او په لوړو ځايونو کې اوسې، سره له دې چې ته ډېر کوچنی يې؟ راځه له موږ سره په پنجره کې ګډ ژوند وکړه، موږ ته خلک تيار خواړه راکوي، په الوتلو ځانونه نه ستړي کوو او نه هم د لېوانو له ګواښ سره مخ يو!!

باز په لوړ اواز وخندل او ورته ويې ويل: که ته لوړ والوزې، نو د ستر وياړ، درنښت او ستاينې احساس به وکړې. که لوړ اوسېدل غوره کړې، نو د ټيټو اوسېدونکو د سترګو ازغی به شې او که له هغه څه خوراک وکړې، چې په خپل زيار او زحمت دې لاس ته راوړي وي، نو د خپلو هڅو، سخت کار او ژوند په مفهوم به پوهه شې. ايا ته نه پوهيږې چې تا ته چې څوک خواړه درکوي، هغه د خپلو خوړو پاتې شونې درکوي، هغه خواړه ستا له غوښو څخه لاسته راوړي، ستا هګۍ هم خوري او ته يې له لېوه څخه د ژغورنې په پلمه ټول وخت په بند کې ساتلې يې؟

چرګې وخندل او ويې ويل: ته د زياتې خوښۍ، درنښت، ستاينې، وياړ او د ژوند په اړه بې ځايه خبرې کوې. فکر کوم ته لېونی يې او يا هم نږدې ده چې لېونی شې!

باز چرګې ته وويل: زه پوهېږم چې ته څه وايې، ځکه ته په پنجره کې پيدا شوې يې او همالته ژوند کوې. ته به زما په خبره تر هغه پوهه نه شې، چې له دغه زندانه راوتلې نه يې او خپل ځان دې له هغه چا ازاد کړی نه وي چې ته يې په دې پلمه روزلې يې!

د چرګې او باز تر منځ پورته خيالي خبرې اترې په بشري نړۍ کې د واقعيت انځور ښيي. چرګه چې د کورنيو مارغانو له ډلې ده، موږ ته د تابع کولو معنی لري او د هغو کسانو په اړه منطقي مفکوره راکوي، چې د بل تر لاس لاندې ژوند کوي. هغه څوک چې له لسيزو راهيسې يې د بل چا تر ولکې لاندې ژوند تېر کړی وي، په ګرانه د باز

په خبرو پوهیږي. ان تر هغه به پوه نه شي چې له پنجرې څخه را ونه وځي او له خپلواکو بازانو سره په ازاده فضا کې الوت ونه کړي.

په اسلامي نړۍ کې داسې خلک شته چې ځانونه خپلواک بازان بولي، خو په حقیقت کې دوی کورني مارغان دي او په پنجره کې په ژوند کولو خوښ دي. ګڼ شمېر نور خلک په نړۍ کې ځانونه ویاړلي بولي، د لوړوالي او پرمختګ په لټه کې دي، خو دوی په حقیقت کې د ښارویو په څېر د لرګي په منځ له یوه ځایه بل ځای ته خوځیږي او هیڅ درنښت، ویاړ او زړورتیا پکې نه شته.

په نړۍ کې ډېری خلک ځانونه زمریان بولي، خو کله چې پرې ازمایښت او کړاو راشي، نو ژبې یې ګونګې شي او له ډېرې وېرې د سوی په څېر لړزېږي.

په نړۍ کې هېڅوک خپل ځان د چرګې په حالت کې نه بولي، بلکې ځانونه د باز په څېر غوره بولي. خو ایا باور کولی شو چې چرګه دې د باز او لېوه پېښې وکړي او یا باز خپل ځان د چرګې حالت ته راټیټ کړي؟

په بشري نړۍ کې یو کس د ټاکنې خاوند نه وي، خو کله چې د ځان لپاره یو څه ټاکي، هغه بې ګټې وي. هېڅوک خپل ځان بې ګټې نه بولي، بلکې زړور اتل یې بولي، نه تابع غلام. د دې حالت اصلي واقعیت هغه څه منعکسوي چې وویل شول. ځینې شیان د یو چا رېښتینولي په ګوته کوي، که وینا یې له اصلي حالت سره ورته وي، نو دی رښتینی دی، که نه، نو درواغجن دی. باز خپلواک دی او اړتیا نه لري چې خپل ځان خلکو ته په ډاګه کړي. دغه راز کورني مارغان هم، که هر څه ووایي، خو خپل اصلي حالت له خلکو نه شي پټولی. موږ به حتما له دغو دوو حالتونو څخه په یوه کې یو. یا به د باز په څېر خپلواک او یا به د چرګې په څېر په پنجرو کې بندیان یو.

په خپل اصلي حالت او نور خلکو په حالتونو ـ چې په ټولنه کې ورسره ګډ ژوند کوو او تړاو ورسره لرو ـ د پوهېدو لپاره باید خپل حالت او د نورو خلکو حالتونو ته ځیر شو. انسان ته باید د مفکورې، احساساتو، محکومیتونو او اخلاقو له زاویې وکتل شي چې دی په کوم حالت کې ارامي او راحت مومي.

لاندې ټکو ته په کتو او فکر کولو سره به موږ هر یو په خپل واقعي حالت پوه شو. که څوک رېښتینی وي، حتما به خپل ځان یا د ازاد باز په تله وتلي او یا هم د کورنۍ چرګې په تله.

**لومړی:** شخص باید د ځان لپاره ښه او وړ لاره غوره کړي. که ته هغه لاره غوره کړې چې الله سبحانه و تعالی یې بنسټ اېښی او خپله هره لویه او کوچینۍ چاره د قران او سنتو په رڼا کې حل او فصل کړې، اسلام د مبدا په توګه واخلې، د دغې مبدا د واکمنېدو غوښتنه وکړې او د بشر په لاس جوړو شویو نظامونو ته سر ټیټ نه کړې، خپل ځان، مال او بچیان د اسلام د شان او شوکت لپاره وښندې، د کفري ښکېلاکي دولتونو پر وړاندې ـ چې د خپلو مزدورانو په منځ په اسلامي امت اداره کوي ـ مبارزه وکړې، د دوی پلانونه او دسیسې بربنډې کړې؛ په دغه حالت

کې باید پوه شې چې ته یو خپلواک باز یې، چې اسلام ته د بشر په لاس پر جوړو شوو نظاموو غوره والی ورکوي؛ لکه الله سبحانه و تعالی چې فرمایي:

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ [التوبه: ۳۳]

*دی (الله سبحانه و تعالی) هغه ذات دی چې په هدایت او حق دین سره یې خپل رسول د دې لپاره راولېږه چې دغه دین پر ټولو دینونو غالب شي، که څه هم مشرکان دا نه خوښوي.*

دغه راز فرمایي:

﴿وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [المنافقون: ۸]

*ټول عزت د الله، د هغه د رسول او مومنانو لپاره دی، خو منافقان په دې نه پوهیږي.*

همدارنګه په بل ایت کې فرمایي:

﴿وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا﴾ [النساء:۱۴۱]

*الله کافرانو ته پر مسلمانانو د برلاسي کېدو هېڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.*

خو که ته د کمزورۍ، نیمګړي او لنډ فکره انسان په لاس جوړ شوی نظام غوره کړې، د کافر لویدیځ له لوري راوړل شوي افکار او مفاهیم ومنې، د خپل ژوند ټولې یا ځینې چارې په دغه نظام پورې وتړې او پر ژوند د دغه نظام د واکمنېدو غوښتنه وکړې، لکه کمونیزم او ډیموکراسي، د دغه نظام ساتونکی شې، پلویانو ته یې ځان تسلیم کړې او د هغه چا پر وړاندې ودرېږې چې د دغو نظامونو پر ضد مبارزه کوي...؛ نو پوه شه چې د غلامۍ ځنځیر دې مات نه کړ او په پنجره کې د بندي چرګې حالت ته دې غاړه کېښوده.

**دویم:** که ته ځان د دغه امت غوره استازی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیغام لېږدوونکی، نړۍ ته د دغه پیغام په لېږد او د اسلام په خپرولو کې ځان مسؤول بولې، هغه پولې چې ته یې له نور امت څخه بېل کړی یې، په رسمیت نه پېژنې او د دې لپاره کار کوې چې دغه پولې له منځه ولاړې شي او اسلامي نړۍ بیا یو موټی شي؛ نو پوه شه چې ته خپلواک باز یې او په هغه پنجره کې ژوند کول نه منې چې ته پکې اچول شوی یې.

خو که ته د سایکس پیکو له تړون سره سم د اسلامي دولت له وېش سره موافق یې، پر هغه ټوټه خاوره ویاړې چې ښکېلاکګرو ستا لپاره ځانګړې کړې ده او ته یې پکې بندي کړی یې، په وطني احساساتو کې ډوب یې، هغه کسان چې ملي سرود زمزمه کوي، ته یې هم ورسره په خوښۍ بدرګه کوې، د اوسنیو پولو ساتل غواړې، د دې پولو د ساتلو لپاره جګړه کوې، د امت بچیان او خپل مسلمان ورونه په خپل هېواد کې پردي ګڼې، له هغوی سره د هېوادپالنې او هیواد ساتنې تر نامه لاندې جګړه کوې...؛ که ته دغه ډول احساسات او باورونه لرې، نو پوه شه چې ته د هغې چرګې په څېر یې چې په پنجره کې یې بندي کړې ده او پر همدغه پنجره خوښه ده.

**دریېم:** که پوه شې چې د ځمکې پر سر او تر ځمکې لاندې چې کومې خزانې الله سبحانه و تعالی ستا لپاره چمتو کړي دي او ته د دې وړ یې چې دغه شتمنۍ او خزانې له اسلامي قوانینو سره سمې په خپل واک کې واخلې، هغه شتمنۍ چې د اسلامي امت په واک کې دي، باید په ناقانونه توګه د ښکېلاکګرو دولتونو له لوري غصب نه شي، ته به هڅه کوې چې خپلې شمتنۍ او اقتصاد د پانګوالو دولتونو له لاسه وباسې، ته خبر یې چې پانګوالو دولتونو د نړۍ په سرچینو خېټه اچولې او له دې امله یې پکې سخته بېوزلي او بېکاري رامنځته کړې ده، ته د دې لپاره هڅه کوې چې امت وهڅوې، تر څو د امت د شتمنیو د لوټ او تالان پر وړاندې ودرېږي، په ورته وخت کې پوهېږې چې د اسلامي خاورو شتمنۍ لکه: تېل، ګاز، مالګې، پاسفیټ او نور د ټول اسلامي امت حق دی، نه د څو هېوادونو او ځینو جغرافیوي واحدونو د اوسېدونکو حق چې د شریرو انګریزانو او فرانسویانو له لوري د سایکس پیکو د تړون له مخې یې اسلامي خاوره په ګڼو ټوټو وېشلې ده؛ که ستا د پوهې کچه تر دغه بریده ورسېږي، نو پوه شه چې ته خپلواک باز یې چې د محدودیتونو پروا نه لري او د پولو د وېش له امله د الله سبحانه وتعالی له روزۍ څخه ځان بې برخې نه بولي.

خو سره له دې چې ته په دې پوه شې چې خاین واکمنان د زړه سواندو په څېره کې پر تا واکمني کوي. تا ته د ډوډۍ پاتې شونې درغورځوي، ستا شتمني ستا او د امت دښمنانو ته ورکوي. که څوک تا ته ووایي چې په اسلامي خاورو کې شته شتمني ـ په هر هېواد کې چې وي ـ ستا شتمني ده، نو شونې ده چې ته پرې ملنډې ووهې، همنظره به ورسره نه شې او نادره به درته معلومه شي. ته د فاسدو چارواکو په خبرو غولېږې او د دوی په درواغو باور کوې. دوی درته وایي چې هېواد بېوزله دی، هېڅ شتمني نه لري، ته په هېواد کې د پانګونو د بهرنیو پروژو ملاتړ کوې او په دغو کمپنیو کې د دندې په تر لاسه کولو خوښي څرګندوې. که داسې یې، نو پوه شه چې ته د چرګې په څېر یې چې له فضوله موادو او خځلو څخه خواړه برابروي.

﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ﴾ [الاعراف: ۳۲]

*اې محمده! دوی ته ووایه: چا د الله هغه ښکلا حرامه کړې ده چې د خپلو بنده ګانو لپاره یې را ایستلې ده. چا د خدای بخښل شوي شیان منعه کړي دي؟ ووایه: دا ټول شیان د دنیا په ژوندانه کې هم د ایمان راوړونکو لپاره دي او د اخرت پر ورځ به یوازې د همدوی لپاره وي. په دغه شان موږ خپلې خبرې د هغو خلکو لپاره روښانه کوو چې پوهېږي.*

﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ﴾ [الملک: ۱۵]

*هغه ذات چې ستاسو لپاره یې ځمکه پسته هواره او تابع کړې ده، د هغې پر سینه باندې ګرځئ او د خدای روزي خورئ، د هماغه حضور ته ستاسي په دویم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دی.*

**څلورم:** که ته ځان د دې امت د بدن یوه حیاتي ټوټه ګڼې. هغه کسان چې شهادتین وایي، هغوی خپل دیني ورونه بولې، ځکه چې دغه امت یو واحد امت دی او پرته له دغه اصل څخه توکم، نسب، رنګ او ژبه په نظر کې نه نیول کیږي او مومنان ټول سره ورونه دي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ [الحجرات: ۱۰]

*مومنان سره ورونه دي، د ورونیو تر منځ مو سوله وکړئ او له الله څخه و وېریږئ، ښایي پر تاسې رحم وکړې.*

او ته د هغو فکرونو پر وړاندې مبارزه کوې چې امت سره بېلوي، پر وګړو او ولسونو یې وېشي. د جاهلیت هر دود او بنه ـ که قومي وي که مذهبي ـ تر پښو لاندې کوې. ابن حبان په خپل صحیح کې له ابی ابن کعب څخه روایت کوي، هغه وایي: ما یو سړی ولید چې د جاهلیت په څېر یې په خپل قوم او نسب ویاړ کاوه او غوره یې باله، ما ورته وویل چې خدای دې د دې جوګه کړه چې د خپل پلار په تناسلي اله شخوند ووهې او دا خبره مې ورته په کنایه کې ونه کړه، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**« من تعزى بعزاء الجاهلية فأعضوه بهن أبيه ولا تكنوا »**

*څوک چې د جاهلیت په څېر په خپل قومیت او نسب افتخار کوي، هغه دې د خپل پلار تناسلي اله وژووي او دا خبره ورته په کنایه کې مه کوئ.*

په سنن ابو داود کې له ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت شوی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ، وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ، أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ، لَيَدَعَنَّ رِجَالٌ فَخْرَهُمْ بِأَقْوَامٍ، إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ فَحْمِ جَهَنَّمَ، أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجِعْلَانِ الَّتِي تَدْفَعُ بِأَنْفِهَا النَّتِنَ».**

*الله عز وجل له تاسو څخه د جاهلیت فخر او تکبر او پر پلرونو فخر کول ایسته کړي دي. مومن پاک او فاجر بدمرغه دی. تاسو د ادم اولاد یاست او ادم له خاورو څخه جوړ دی. خلک به یا پر قومونو ویاړل ترک کوي، ځکه چې دغه ډول خلک د دوزخ له خاشاکو څخه خاشاک دي او یا به د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې له هغې حشرې څخه هم ډېر سپکیږي چې په خپله پزه بد بویي او خوشیان رغړوي.*

که دغه لار تعقیب کړې او د اسلامي امت په ویاړونو پورې ځان تړلی وبولې؛ نو ته به خپلواک، ویاړلی او د جاهلیت له ناروغۍ څخه پاک باز واوسې.

خو که ته د جاهلیت په ناروغۍ اخته یې، تر هغه به د دې ناروغۍ له چینجیو څخه کړېږې چې د خلاصون یوه لار دې نه وي موندلې. په ملتپالنه او وطنپالنه به ویاړې. خپل هویت به په خاوره پورې تړلی وینې. تړاو به دې کورنۍ ریښنه لري. له ټولو هغو خلکو څخه به کرکه کوې چې ستا په هېواد پورې تړاو نه لري او ستا له توکم څخه نه وي.

ته د خودمختارۍ غوښتنه کوي، د قران په ژبه خبرې نه کوي او بهرنیو ژبو ته پرې غوراوی ورکوي. پوه شه چې دغه بده پدیده ښکېلاکګر کافر در پېژندلې ده، دوی په خپل پلان کې بریالي او پایلې ته رسېدلي دي. ته له امت څخه کرکه لرې او په ویاړ سره وایې: زه عرب یم، زه کرد یم، زه فارسي یم، زه سعودی یم، زه د خلیج یم، زه الجزایري یم... . موږ وینو چې ته ناحقه نښتو او جګړو ته د خپل قوم، توکم او هېواد لپاره وردانګې؛ لکه حیوان چې د خپلې ډلې، توکم، ځالې او سورې د ساتنې لپاره هلې ځلې کوي.

**پنځم:** که ته پر دې پوهېږې چې اسلام د دې لپاره راغلی چې تا له غلامۍ څخه خلاصوي، تا ته د یو ازاد شخص په توګه عزت او شرف درکوي او پوهېږې چې له شریعت پرته هېڅوک واکمني نه شي دربانديې کولای، دا چې ته صلاحیت لرې چې هغه څوک وټاکې چې د الله سبحانه و تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو سره سم پر تا اسلامي نظام پلی کوي. ته بې عدالتي، ظلم او چوپه خوله پاتې کېدل ردوې او یوازې د الله سبحانه و تعالی څخه وېرېږې او هغه څه نه منې چې ظالمان یې کوي. د الله سبحانه و تعالی د دې وینا له مخې:

﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ﴾ [ هود: ۱۱۳]

*د هغو لورې ته مه ځئ چې ظلم کوي، که نه، نو د دوزخ اور به مو وسوځوي. تاسې به کوم داسې دوست او سرپرست و نه مومئ چې له خدای څخه مو وژغولای شي او له هیڅ ځای څخه به تاسې ته مرسته و نه رسېږي.*

د کفري نظامونو د ړنګولو لپاره ایستلو لپاره ځان قرباني ته چمتو کړه او کفري نظامونه ونړوه. د خاینو واکمنانو تختونه نسکور کړه. اسلام بیا راژوندی او د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړه. ته باید له پولیسو څخه وېره ونه لرې، دوی دې باید له حق ویلو څخه منعه نه کړي. د زندان تورې تیارې دې ونه وېروي. د اعدام او دار رسۍ دې باید د اسلام او مسلمانانو د لوړتیا او برم لپاره له شهادته ونه وېروي. پوه شه چې له اسلام پرته ژوند بې خونده دی او انسانان باید له تاریکۍ څخه رڼا ته را وویستل شي. که داسې یې، نو پوه شه چې ته یو خپلواک باز یې چې په فضا کې الوزې او د نهضت او لوړوالي په لټه کې یې.

که ته دیکتاتورو او ظالمو واکمنانو ته پام وکړې، چې د زور او جبر په مټ پر تا حکومت کوي، کفري قوانین پلي کوي او تا بې عدالتۍ، ظلم، د خلکو غلي کولو او له ژوند څخه د خلکو بې برخې کولو ته اړباسي، د خپلو امنیتي او استخباراتي ځواکونو په مټ ستا څارنه کوي او ستا ټول حرکات او سکنات څاري، له سیاست څخه دې منعه کوي، له دې څخه دې منعه کوي چې له هغه او د هغه له مامورینو څخه حساب واخلې، ستا ژبه له خبرو او قلم دې له لیکلو څخه راګرځوي، د ده نوکران ستا کور ته ننوځي، ستا کوچنیان له تا څخه اخلي او زندانونو ته یې لېږي، له ښکېلاکګرو کفارو سره ملګرتیا کوي، ښکېلاکګر د خپلو سلاکارانو په توګه ټاکي او دوی ته اجازه ورکوي چې ستا په خاوره کې اډې او استخباراتي نماینده ګۍ ولري، چې تا ورڅخه وڅاري، دوی ته هغه څه ورکوي چې ته یې ورڅخه بې برخې کړی یې، که سره له دې هم ته د وطن ساتونکی یې او د هغه له ظلمونو څخه

دفاع کوي، خلکو ته وایي چې دغه خاین باید نور وخت هم په واک کې پاتې شي، ځکه چې دی رېښتینی مشر دی او موږ له لېوانو څخه ساتي، دا هم ورته وایي چې الله سبحانه و تعالی امر کړی چې د ده اطاعت باید وشي او د ده د اوږد ژوند او ډېر وخت په واک کې پاتې کېدوو لپاره باید دعا وشي... که داسې یې؛ نو پوه شه چې ته کورنۍ چرګه یې او ستا منطق هم له باز سره په خبر اترو کې له چرګې سره هیڅ توپیر نه لري.

نوموړي پنځه ټکي، چې یادونه مې یې وکړه، ستا لپاره کافي دي، تر څو خپل واقعیت وپېژنې چې ته باز یې که د چرګې حالت لرې!

په څرګنده درته وایم: د خپلواکو بازانو لپاره زما خبرې ډېرې په زړه پورې دي. خو د ځینو نورو لپاره بیا زما ویناوې ځوروونکې، پاروونکې او د پوهېدو وړ نه دي او د ځینو نورو لپاره د کتلست دنده ترسره کوي (متحرک کوي یې او عمل ته یې هڅوي). که زما وینا د چا نه وي خوښه او په اړه یې اندېښمن وي، نو له ځانه دې وپوښتنې چې ولې؟

د خپلې وینا په پای کې داسې وایم چې:

﴿لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ [ ق: ۳۷]

*(بېشکه په دغه تاریخ کې د عبرت درس دی) د هر هغه چا لپاره چې زړه لري یا په پاملرنې سره خبره اوري.*

په حقیقت کې دا د هغه چا لپاره یوه خبرتیا ده چې عقل لري او یا غوږ ونیسې، کله چې دی په رواني او جسمي لحاظ موجود وي. ځان له کلتوري، رسنیزې، ټولنیزې، اقتصادي او سیاسي غلامۍ څخه خلاص کړه. دغه راز له مذهبي ټېکه دارانو او هغو واکمانو څخه چې ځمکنۍ او فضایي لارې یې انحصار کړي دي، هم ځان ازاد کړه. اسلامي امت ته وروګرځه، له ظالمانو سره د خپل امت په مقابل کې مرسته مه کوه او د ظلم پر وړاندې ارام مه کېنه. که زما مشوره دې رد کړه، نو زه د الله سبحانه و تعالی له کلام پرته ستا لپاره بل څه نه لرم:

﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ * إِنْ أَنْتَ إِلَّا نَذِيرٌ﴾
[الفاطر: ۲۲-۲۳]

*مړي او ژوندي نه دي سره برابر. الله سبحانه و تعالی د هغه چا خبره اوري چې خوښه یې شي، اې پیغمبره ته هغو خلکو ته خبرې نه شې اورولای، چې په هدیرو کې ښخ دي. ته خو یو خبر ورکوونکی یې.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د رادیو لپاره**

**خالد العمراوي**

**۱۴۳۸هـ.ق، د شوال۲۲ مه**

**۲۰۱۷م، د جولای ۱٦ مه**